# په اسلامي شریعت کې د کرنې ارزښت

پوهنمل خطاب الله خطاب، اسلامي ثقافت څانګه، شرعیاتو پوهنځی، لغمان پوهنتون

**لنډیز**

د بشریت په هوسا ژوند او د یو هېواد اقتصادي پرمختګ کې کرنه او زراعت ستر رول لري نو اسلامي شریعت هم یاده موضوع له پامه نه ده غورزولې بلکې مسلمانان یې کرنې او زراعت ته تشویق کړي او هڅوولي دي کرنه د عربي ژبدود د الزراعة کلمې په معنی ده چې اصطلاحي معنی یې (ټولې هغه کرنېزې عملیې چې په کرنه کې په کار وړل کیږي او د حاصل د لاسته راوړنې او زیاتوالي سبب ګرځي د کرنې په نامه یادیږي. دکرنې فضیلت په قران کریم ، نبوي مبارکو احادیثو او د اسلامي شریعت د علماو په اقوالوکې واضح او څرګند دی کروندګر ته د دنیوي ګټې ترڅنګ اخروي ګټه هم شته کله، چې دده له کښت څخه انسانان،ژوې،مرغان او حشرات استفاده کوي نو الله تعالی یې ورته په صدقه کې حسابوي؛نو حلال کښت هغه وخت کروندګر ترلاسه کولای شي چې د کرنې شرائط په نظر کې ونیسي.

**کلیدي کلیمې:** کرنه،ځمکه، کښت ، محصولات ، مزارع حلال کښت.

**سـر یــزه**

الحمد لله و کفی والصلوة والسلام علی من لا نبي بعده، أما بعد. اسلام یو داسې جامع او د مومن ژوند ته شامل دین دی،چې په هره برخه کې خپلو پېروانو ته لارښونې لري که هغه دیني برخه ده او که دنیوي چې کرنه هم په کې شامله ده دا چې د یو هیواد په اقتصادي وده کې کرنه خورا مهم رول لري او اوسني وخت کې ورته ډیره اړتیا لیدل کیږي ځکه، خو اوسمهال زمونږ ګران هیواد کې کرنې ته ډېره توجه شوې ده ،چې قوشتیپه او نورې کرنیزې پروژې یې په بیلګه کې وړاندې کولای شو،نو اړینه بولم څو

مسلمانان ورونه پدې وپوهول شي چې اسلامي شریعت کرنې ته څومره ارزښت ورکړی او کومې لارښوونې یې کړې دي. غواړم چې یاده موضوع په لنډه توګه وڅېړم.

## د موضوع ارزښت

په اسلامي شریعت کې کرنه ارزښت لرونکې موضوع ده ځکه چې د کرنې او زراعت په ذریعه د یو هیواد اقتصاد په خپلو پښو درېږي او خودکفاء کېږي نو ضروري ده، چې د ګران هیواد ټول وګړي دېته و هڅول شي څو خپلو ځمکو کې حلال کښت وکړي او د هیواد په اقتصادي وده کې ونډه واخلي .

## د څېړنې پوښتنې

آیا اسلامي شریعت خپلو اتباعو ته د کرنې اړوند لارښونې کړې دي؟

د کوم ډول کښت په کرلو باندې مسلمان ته اجر او ثواب شته؟

په اسلامي شریعت کې د کرنې ارزښت څنګه دی؟

## د څېړنې ستونزه

زمونږ ګران هیواد زیاتې اوبه لري خو بیا هم زمونږ د ګران هیواد ډېری برخه ځمکې شاړې پاتي همدارنګه اسلامي شریعت په کرکېله باندې ډېر تمرکز کړی خو بیا هم مسلمانان ورڅخه غافله دي، نورې نړۍ کې په یاده موضوع کې مفصله لیکنې شوي خو په پښتو ژبه کې داسې یو جامه لیکنه نه ده شوې.

## د موضوع موخې

لوستونکي به په دې وتوانیږي چې:

۱ـ په اسلامي شریعت کې د کرنې ارزښت باندې به پوه شي .

۲ـ مسلمانان به کرنې او زراعت ته تشویق شي.
۳ـ د یادې موضوع ځینې اړین مسایل به و پېژني.

## د څېړنې تګلاره

ددې مقالې د لیکلو په لړ کې مې دا تګلاره غوره کړې چې د هرې مسئلې په اړه مې اول دقرآن کریم څخه دلیل راوړی او د ایت پښتو ژباړه مې د تفسیر کشاف څخه کړې ده، په دویم قدم کې مې نبوي احادیثو ته مراجعه کړې او د حدیث د ذکرکولو په صورت کې مې د حدیث ژباړه،مختصرتخریج اود صحیحینو احادیثو پرته نورو حدیثونو حکم هم ذکرکړې، د قرآن کریم او نبوي سنتو څخه وروسته د اسلامي فقهې معتمدو او معتبرو متونو ته مراجعه کړې او د مسئلې اړوند مې د هغوی نظریات راوړي دي د لیکنې ډول مې کتابتوني دی او لیکنې مېتود مې تشریحي توضېحي دی.

### مناقشه

## د کرنې پېژندنه

کرنه ( زراعت ) چې د عربي ژبې د زرعَ یزرعُ زرعاً (ضربَ یضربُ ضرباً) باب څخه اخیستل شوې ده، چې مصدر یې زرعاً او زراعتاً او اسم یې الزّرع په معني د بذر (کرلو) سره راځي؛ خو په غالب ډول د غنمو او وربشو د کرلو په معنی سره راځي جمع یې زروع ده المزرعۃ، او الزریعۃ هغه ځمکې ته وايي، چې کرنه پکې صورت نیسي (ابن منظور،۱۴۱۴ هـ ج ۸ص ۱۴۱).

مګر په اوسني عصر کې زراعت (کرنه) ټولو هغو عملیو ته ویل کېږي، چې کروندګر یې د کرنې له پیله تر پایه او ان د محصول تر اخیستلو پورې ترسره کوي.

## په اصطلاح کې زراعت

دنباتاتو او حیواناتو روزل او همدارنګه دځمکې او اوبو منابع او سرچینې په سمه توګه کارول او د هغې څخه د بشر لپاره د غذا برابرولو عملیې ته کرنه یا زراعت وایي. (غفاري، ج ۱ ص ۵۶).

په بل عبارت: ټولې هغه کرنیزې عملیې چې په کرنه کې په کار وړل کیږي او د حاصل د زیاتوالي سبب ګرځي د کرنې په نامه یادیږي.

## په قرآن کریم کې دکرهنې ارزښت

کرنې په هکله په قران کریم کې ډیر زیات آیاتونه راغلي دي خو مونږ یې دلته یو څو ایاتونه ذکر کوو الله ﷻ په سورة کهف کې ورته اشاره کړې:(وَ اضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ اَعْنَابٍ وَّ حَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ وَّ جَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًاؕ) . { الکهف :۳۲ آیت}.

ژباړه: او بیان کړه دوی ته مثال د هغو دوو کسانو چې یوه ته مو دوه باغونه د انګورو ورکړي وو، داسې باغونه چې ګیر چاپیره ترینه د خرما ونې وې او ددې دوو باغونو ترمنځ مونږ کرونده ګرځولې وه دې دواړو باغونو خپلې میوې بې له کمې څخه ورکولې او مونږ ددې باغونو ترمنځ نهر ګرځولی وو.

په مبارك ایت کې د باغ جوړونې یوه تر ټولو کامیابه کړنلاره ذکر شوې ده او هغه په دې ډول ده:

۱. په دې مبارك ایت کې د (جنتین) کلمه ذکر ده دا ترینه معلومیږي چې د ا باغونه دوه وو.

۲. په مبارک ایت کې د (وجعلنا بینهما زرعا) جمله ذکر شوې ده له دې معلومیږي چې د باغ د ونو تر منځ دومره فاصله وه چې په منځ کې یې کروندګر کر کېله.

د الله ﷻ په مخلوقاتو کې انسان هغه مخلوق دی، چې الله ﷻ یې قران کریم کې داسې یادونه کړې آدم علیه السلام (د بشریت پلار ته) الله ﷻ د هر څه علم ور وښوده، چې د اکثره مفسرینو په اند دا علم د نورو څیزونو په څېر له کرنېزو توکوڅخه عبارت و.

الله ﷻ فرمايي : (وَ عَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلٰٓىٕكَةِ فَقَالَ اَنْۢبِـُٔوْنِیْ بِاَسْمَآءِ هٰۤؤُلَآءِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ) {البقرة :۳۱ آیت}.

ژباړه: له هغې وروسته الله ﷻ ادم علیه السلام ته د ټولو شیانو نومونه وښودل،بیا یې هغه پرښتو ته وړاندې کړل او وه ویل: که ستاسې دا ګومان صحیح وي(چې د خلیفه په ټاکنه کې به نظم وران شي) نو ددې شیانو نومونه راته ووایاست!

۱. علامه قرطبي رحمه الله په خپل تفسیر کې د همدې ایت لاندې د ابن عباس (رضي الله عنهما) قول رانقل کړی (وقال ابن عباس علمه اسماء کل شئ حتي الجفنة والمحلب) . (قرطبي، 1384هـ - 1964 م. ج ۳ ص ۱۳۰).

ژباړه:آدم علیه السلام ته الله ﷻ د ټولو شیانو نومونه وښودل آن د کاسې او غوا لوشلو لوښې یې هم ور ښودلي وو.

۲. همدارنګه امام طبري رحمه الله د همدې ایت لاندې لیکي: (علم الله آدم الاسماء کلها وهي هذه الاسماء التي یتعارف بهاالناس انسان ودابة وارض وسهل وبحروجبل وحمار واشباه ذلک من الامم وغیرها) (طبري، ۱۴۲۲هـ ج ۱ ص ۵۱۴).

ژباړه: الله ﷻ ادم علیه السلام ته د ټولو شیانو نومونه وروښودل ،او دا هغه شیان وو، چې انسان پې اړوند پوه ترلاسه کوي، لکه: انسان، ژوي، ځمکه، آس، دریاب، غر، خر او دیته ورته نور د اړتیا وړ څیزونه .

که مبارك ایات ته فکر وشي نو دا ترینه په څرګنده معلومیږي، چې دا هغه علم دی چې ددې په وجه ادم علیه السلام پر ملائکو درجه حاصله کړې او د هغوی له لوري په احترام ونازول شول، څکه ځینې مفسرین په دې آند دي، چې دا علم دکرنیزو آلاتو او هغو مهمو الاتو و، چې بشر به یې په دنیا کې دکرنې له لارې پرې خپله غذا برابره وي .

لکه الله ﷻ فرمایي : (اَفَرَءَیتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ۝ ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ) { الواقعة :۶۳ آیت} .

ژباړه : ایا تاسې کله غور کړی دی، دغه تخم چې تاسې یې کرئ، د دغه څخه کښتونه تاسې را زرغونوئ او که د هغو زرغونوونکي مونږ یوو؟.

که چېرته دې مبارکو ایاتونو ته په ځیر وکتل شي نو الله ﷻ خپل ځانته دزارع خطاب کړی، له همدې امله ځینې علماء په دې اند دي چې د زارع کلمه یواځې او یواځې باید د الله ﷻ لپاره وکارول شي خو علامه ابن کثیر او همدارنګه ابن جریر (رحمهما الله) دا په سند سره رانقل کړي چې د الزارع کلمه د انسانانو لپاره مجازا استعمال شوې، چې مراد ترینه حرّاث (کروندګر)دی. لکه الله ﷻ د مؤمنانو په صفاتو کې فرمایي: (یعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِیغِیظَ بِہِمُ الْکُفَّارَ) {الفتح :۲۹ آیت}.

همدارنګه په قرآن کریم کې دکرنې اهمیت په مختلفو ځایونو کې ذکر شوی دی؛ البته ترټولو مهمه یې دا ده چې الله ﷻ په قرآن کریم کې په ځینو کرنېزو محصولاتو قسم خوري؛ او فرمایي:

( وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ) {التين :۱ آیت}.

ژباړه : قسم دی په انځر او ښوون (زیتون).

په پورتني  ایت کې الله ﷻ په دوه مهمو میوو قسم خوري؛ که څه هم دمفسرینو په دې اړه مختلف نظریات دي دلته مونږ یواځې هغه اقوال رانقل کوو چې د بحث سره ربط لري.

لکه علامه احمد بن محمود النسفي په خپل تفسیر (مدارک التنزیل وحقائق التاویل )چې په تفسیر مدارك سره مشهور دی د سورة التین په تفسیر کې فرمایي، چې الله ﷻ ولې په دې دواړو میوو قسم وخوړ؟ هغه فرمايي: (اقسم بها لأنهما عجيبان من بين الأشجار المثمرة) نوموړی په خپل تفسیر کې زیاتوي الله ﷻ ځکه په دې دواړو میوو قسم وخوړ چې د میوه لرونکو ونو ترمنځ دا عجیبه دي.(نسفي، ۱۴۱۹ هـ – ۱۹۹۸ م. ج ۳ ص ۶۵۹).

تر ټولو مهمه یې دا  ده چې الله ﷻ کله خپلو نیکو بندګانو ته د انعاماتو یادونه کوي نو په انعاماتوکې ورته د نورو څیزونو سربیره کرنیز محصولات هم یادوي، چې دقران کریم مختلف ایاتونه پرې ګواه دي.لکه الله ﷻ په سورة النبآ کې فرمایي:(اِنَّ لِلْمُتَّقِيۡنَ مَفَازًاۙ حَدَآئِقَ وَ اَعْنَابًا) {النباء :۳۲ آیت}.

ژباړه: بېشکه د پرهیز ګارانو لپاره کامیابی ده، باغونه او انګور دي .

همدارنګه د قران کریم نور متعدد ایاتونه، چې دې موضوع ته اشاره لري ډیر زیات دي چې د بحث د اوږدوالي له کبله ترې تیریږو.

**په نبوي احاديثو كې د كرهنې ارزښت**

۱. عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا ، أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ ، أَوْ إِنْسَانٌ ، أَوْ بَهِيمَةٌ إِلاَّ كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ. (بخاري، ۱۴۲۲هـ ج ۵ ص ۲۸).

ژباړه: هېڅ داسې يو مسلمان نشته چې يو نيالګی كښېنوي يا هم فصل وكري بيا له دغه كښت څخه مارغان،انسانان او څاروي خوراك وكړي مګر دا به دده لپاره صدقه وي.

(ياد حديث امام بخاري په صحيح البخاري ،باب فضل الزرع والغرس (ج ۸/ص ۱۱۸/ كې او مسلم ، په صحيح مسلم( ج۸ /ص ۱۸۰كې.دواړو د قتادة دلارى د انس بن مالك څخه روايت كړى).

كه دې حديث شريف ته ځير شو، نو دا ترې معلومه شوه چې د كروندګر كار عبث كار نه دى بلكې څرنګه يې چې دنيا كې فائده شته، نو اخروي فائده هم لري. بله خبره دا ده، چې پدې حديث شريف كې ضمناً دې طرف ته ترغيب معلوميږي، چې بايد كروندګر زيات زيار وباسي څو دنيوي او اخروي ګټې لاس ته راوړي.

۲. عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا، فَإِنْ لَمْ يَزْرَعْهَا، فَلْيُزْرِعْهَا أَخَاهُ) (القشيري، ج ۳ ص ۱۱۷۶).

ژباړه: د چاچې ځمكه وي نو ودې كري او كه خپله يې ونه كري نو بل ورور دې ورته وكري.

په دې حديث كې رسول الله ﷺ د ځمكې په كرلو امر كوي او كه څوك يې خپله نه كري نو بل مسلمان ورور ته دې كرنې په خاطر وركړي يعنې ځمكه به شاړه نه پرېږدي.

(ياد حديث امام بخاري په صحيح البخاري ، باب ما كان اصحاب النبي صلی الله عليه وسلم يواسي بعضهم بعضا (ج ۳/ص ۱۰۷ کې او مسلم ، په صحيح مسلم( ج۳ /ص ۱۱۷۶ کې او نسايي په خپل سنن کې(ج ۱۲/ص ۲۱۴/ دری واړو د عطاء دلاری د جابر بن عبدالله څخه روايت کړی).

۳. عَن أَنس أَن النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيه وَسَلَّم قال: إن قامت الساعة وفي يد أحدكم فسيلة فليغرسها. (البزار، ج ۱۴ ص: ۱۷).

ژباړه: که قيامت راشي او ستاسې يو تن په لاس کې نيالګی وي بيا دې هم ودې کري.

(ياد حديث امام بخاري په الادب المفرد ،باب اصطناع المال (ج ۱/ص ۱۶۸کې او احمد په مسند کې(ج ۲۰/ص ۲۹۶ کې او الطياليسي په مسندکې(ج ۳ ص ۵۴۵). دری واړو د حماد ابن سلمة دلاری د هشام ابن زيد څخه د انس بن مالك نه روايت کړی) (امام الباني ورته صحيح ويلي).

په دې حديث کې هم د کرهنې ارزښت معلوميږي آن تر دې، چې رسول الله ﷺ فرمايي که قيامت هم قائميږي بيا هم که د چا په وسعه کې وي چې کرنه وکړي نو و دې کړي.

ددې سربيره په اسلامې شريعت کې دکرنې اهميت په دې کې هم دی چې د سپي ساتل د کروندې لپاره روا دی سره ددې، چې د نورو کارونو لپاره د سپي ساتل ناروا دي.

حديث کې راغلي دي :

۴. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ:قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَمْسَكَ كَلْبًا فَإِنَّهُ يَنْقُصُ كُلَّ يَوْمٍ مِنْ عَمَلِهِ قِيرَاطٌ إِلَّا كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ مَاشِيَةٍ . (بخاري، ۱۴۲۲هـ ج ۳ ص: ۱۰۳).

ژباړه: له ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول ﷺ فرمایي: چا چې سپی وساتلو نو د هغه له اجر څخه به هره ورځ یو قیراط اجر کمیږي،پرته له هغه سپي چې دکروندې او رمې ساتلو په موخه وي.

(یاد حدیث امام بخاري په صحیح البخاري ،باب اقتناء الکلب للحرث (ج ۳/ص ۱۰۳/ح ۲۳۲۲) کې او مسلم ، په صحیح مسلم( ج۳ /ص ۱۲۰۳/ح ۱۵۷۵) کې دواړو د ابو سلمة دلارې د ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت کړی).

په دې معنی، چې په اسلامي شریعت کې د سپي ساتل ناروا دي، البته که یو څوک یې د کروندې یا رمې ساتلو لپاره د ضرورت په اساس ساتي نو کومه ستونزه نه لري .

## د کرنې ارزښت د علماء کرامو له نظره

ځینې علماء د کرنې د اهمیت په لړ کې د حدیثو په رڼا کې فرمایي چې مزارعت (کرنه) غوره عمل دی ځکه چې ټولنه غذایي موادو ته ډیره اړتیا لري.

علامه نووي (رحمه الله) فرمایي:کرنه تر ټولو غوره کسب دی، خو ځینې نورعلماء بیا د لاس عمل (صنعت او تجارت) غوره ګڼي البته که د علماو پورتنیو نظریاتو ته وګورو نو تقریبا سره ورته دي؛ ځکه چې کرهنه، صنعت او تجارت ټول لاسي محصولاتو څخه شمیرل کیږي. (عیني، ج ۱ ص: ۱۲۵).

**تشریح:** د پورته ذکر شویو دلایلو څخه دکرنې اهمیت او د انسان په ژوندانه کې د هغې رول په څرګند ډول معلومیږي، او بله دا معلومه شوه چې د اسلام مبارک دین د بشري ټولنې د بهبود او هوسا ساتنې لپاره د انسانیت د ژوند په هره برخه کې مهمې پروژې لري، چې په ترسره کولو سره یې بشري ټولنه د پرمختګ لور ته سوق کیږي، د ځینو هغه کرنپوهانو دعواوې هم غلطې ثابتی شوي چې وایي: د کرنې اصول او د هغې په پرمختګ

کې دوی مهم رول لوبولی، دا ځکه چې ټول هغه پرمختللې او عصري عملیې چې اوسني کرنپوهان ترې ګټه پورته کوي او د اختراع دعوه یې کوي په اسلامي نصوصو کې ریښې لري. (قرماز، ۲۰۱۵م . ص: ۳۴).

## د کرنې (زراعت) شرطونه او حکم

د زراعت شرطونه کولای شو په لاندې ډول ذکر کړو، یعنې که یو څوك زراعت کوي او هغه د بل چا په ځمکه کې کرونده کوي، نو فقهاو کرامو ددې لپاره شرطونه او ارکان ذکر کړي دي، چې دا په خپله د زراعت په اهمیت هم دلالت کوي، نو له هغو شرطونو څخه ځیني دا دي.

۱. شرط دا دی هغه ځمکه چې د مزارعت لپاره ورکول کیږي باید کروندې ته اماده وي.

۲. شرط دا دی چې معامله کوونکي دواړه باید د عقد اهلیت لرونکي وي، ځکه دا داسې عقد(تړون) دی، چې د اهلیت پرته نه صحیح کیږي.

۳. شرط دا دی چې د ځمکې ورکولو د پاره یو زماني او فصلي معیار و ټاکل شي، چې د دومره میاشتو یا دومره کلونو لپاره ځمکه درکوم.

۴. د دی خبره وضاحت کول، چې تخم به پر چا وي ترڅو راتلونکې کې ستونزې او لانجې رامنځته نشي او معقود علیه ښکاره ووسي چې منافع د ځمکې دي او که د عمل.

۵. د دی خبرې وضاحت کول، چې د تخم نه ورکوونکي برخه به څومره وي ځکه چې دا د شرط په پایله کې مستحق ګرځي.

۶. شرط دا دی چې ځمکه دي فارغه کړای شي او کروندګر ته دي حواله شي.

۷. د عقد په وخت کې به یې دا شرط کړی وي، چې ټول محصول به شریك وي.

۸. شرط دا دی چې کوم څیز کري هغه دې وښودل شي مزارع دې اوښايي چې غنم به کري، که ترکاري به کري يا تماکو، ځکه دا کېدای شي چې د ځمکې مالك د يو څيز کرونده په خپله ځمکه کې خوښوي او وروسته اختلاف راشي، البته که د ځمکې مالك دا اجازت کړی وي چې ته کوم څيز غواړی هغه وکړه نو بيا دهقان ته اجازت دی چې کوم څيز غواړي هغه دې وکړي. (المرغيناني، ج ۴ ص: ۳۳۸).

## د کرنې حکم

مطلق کرنه مشروع عمل دی بلکې ځينو علماو په کسبونو کې غوره او بهتره کسب ګڼلی دی اما د ځکمې ورکړه بل چا ته په دهقانی باندې د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد ناروا(فاسده عقد دی) اما د صاحبينو(امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله) په نزد جائز دی ځکه خلك ورته اړتيا لري فتوی هم د دوی په قول ده. (الفتاوی الهندية، ج ۵ ص: ۲۳۵).

## پایله

ددې څېړنې په پای کې لاندې نتائج په لاس راځي:

اسلامي شريعت يواځې تعبدي دين نه دی لکه څرنګه يې، چې غرب تعبيروي بلکې د مومن ټول ژوند ته شامل او کامل دين دی ددې جملې څخه يو هم کرنې ته د خپلو پيروانو هڅونه ده.

په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې ځای پرځای د کرنې(زراعت) يادونه شوې او دا يو مشروع عمل دی بلکې ځينې علماو ورته په کسبونو کې غوره کسب ويیلی.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل امت کرنې ته تشويق کړي آن تر دې که قيامت هم قائميږي او د يو شخص توان کې وي، چې يو نيالګی کينوي بيا دې هم کښېنوي.

که يو څوک ځمکه لري او خپله يې نشي کرلای بل مسلمان ورور ته دې کرهنې لپاره ورکړي او شاړه دې نه پرېږدي.

کروندګر ته د دنيوي ګټې ترڅنګ اخروي ګټه هم شته کله، چې دده له کښت څخه انسانان، ژوي،مرغان او حشرات استفاده کوي نو الله تعالی يې ورته په صدقه کې حسابوي.

کرنه او زراعت د خپلو ځانګړو شرائطو په نظر کې نيولو سره غوره او بهتره کسب دی.

**وړانديزونه**

د افغانستان اسلامي امارت څخه مې غوښتنه داده چې د قوشتيبه کانال په څېړګران هېواد مو پرېمانه اوبه او پراخه دښتې لري اوبه دې مهار کړي او دښتې دې کرنې ته اماده کړي.

د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه مې غوښتنه ده، چې د کرنې پوهنځي ښه مجهز کړي څو د ګران هيواد په سمسورتيا کې فعاله ونډه ولري.

محترمو ليکوالانو څخه مې غوښتنه ده چې د کرنې په ارزښت کې په پښتو ژبه ليکنې وکړي څو زمونږ عام پښتانه ور څخه استفاده وکړي.

محترمو علماو، خطيبانو او رسنيو څخه مې غوښتنه ده، چې په خپلو وېناوو کې دهقانان ديته وهڅوي، چې د نشه يي توکو پرځای حلال کښت ته مخه وکړي همدارنګه عام خلك بايد خپل چاپيريال په ونو او بوټو باندې زرغون کړي.

**ماخذونه**

قرآن کريم

ابن منظور: محمد بن مكرم بن علي، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعي الإفريقي، لسان العرب، ناشر: دار صادر – بيروت، ۱۴۱۴ هـ .

بخاري: أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي ،الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه، ناشر : دار طوق النجاة، ۱۴۲۲هـ .

البزار، أبو بكر أحمد بن عمرو بن عبد الخالق بن خلاد بن عبيد الله العتكي ،مسند البزار المنشور باسم البحر الزخار، ،الناشر: مكتبة العلوم والحكم - المدينة المنورة الطبعة: الأولى، (بدأت ۱۹۸۸م، وانتهت ۲۰۰۹م).

طبري: محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري، جامع البيان عن تأويل آي القرآن ، تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي، ناشر: دارهجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان ، ۱۴۲۲ هـ .

عيني: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العيني، عمدة القاري شرح صحيح البخاري، ناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت،(ب - ت).

غفاري: انجينر محمد احمد غفاري، عمومي زراعت(کرنپوهنه)، ناشر: میهن خپرندویه ټولنه،(ب - ت).

قرطبي: ابو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي ، تفسيرالقرطبي، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، ناشر: دار الكتب المصرية – القاهرة،١٣٨٤هـ - ١٩٦٤ م.

قرماز: جمال الدين عبدالرحمن حسن قرماز، الحرث والزرع في القران الكريم، ناشر: دارالكتب، بيروت، ٢٠١٥م.

القشيري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري .صحيح مسلم. المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، (ب - ت).

لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي، الفتاوى الهندية، الناشر: دار الفكر ، ١٣١٠ هـ

المرغيناني،علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني أبو الحسن برهان الدين، الهداية في شرح بداية المبتدي، المحقق: طلال يوسف الناشر: دار احياء التراث العربي - بيروت - لبنان

نسفي: أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي (المتوفى: ٧١٠هـ)، تفسير النسفي (مدارك التنزيل وحقائق التأويل)، تحقيق: يوسف علي بديوي، راجعه وقدم له: محيي الدين ديب مستو، ناشر: دار الكلم الطيب، بيروت، ١٤١٩ هـ - ١٩٩٨ م.